# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## ځانګړی راپور: د کوویډ-۱۹ وبا پرمهال پر روغتیا پالنې بریدونه




یوناما

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی



جون ۲۰۲۰

# د مطالبو لړلیک

۱. عمومي کتنه 3
۲. د وضعیت مخېنه 4
۳. میتودولوژي 6
۴. حقوقي چوکاټ 6
**لومړی. طالبان 8**
***د روغتیایي کارمندانو تښتونې 8***
***د یوه درملتون پر وړاندې عمدي برید 8***
**دویم. افغان ملي امنیتي ځواکونه 9**
***له یوه روغتیایي مرکز بهر پر تېږې طالبانو هوایي برید 9***
***روغتیایي کارمندانو ته ګواښونه او د طبي مرستو لوټل 10***
**د نامعلومو وسله والو له خوا په کابل کې د یوه روغتون د زېږنتون پر وارډ برید او د یوې مؤثرې څېړنې لپاره اړتیا 10**
۷. سپارښتنې 12
۷.پایی لیک 14

عکس © هدایت الله عامد

# ۱. عمومي کتنه

یوناما په افغانستان کې پر روغتیا پالنې د وروستیو عمدي بریدونو د کچې په اړه داسې مهال چې هیواد د کویډ-۱۹ ویروس د ناروغۍ وبا سره مخ دی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت د پاره د ژورې اندیښنې وړ ده. دا مهال چې د بشري مرستو بیړنې غبرګون ته اړتیا وه، چې په افغانستان کې د هر وګړي ژوند خوندي شي، دواړه د دولت ضد عناصر او دولت پلوه ځواکونه[1] د هغه پېښو مسؤلیت په غاړه درلود چې روغتیایي خدمتونو عرضه کول یې په څرګند ډول زیانمن کړي.

پر روغتیا پالنې بریدونه د کوویډ-۱۹ وبا د خپریدو پر مهال را منځ ته شوي، چیرې چې باید ټولې سرچینې د روغتیايي غوښتنو ته غبرګون باندې متمرکزې کړای شي.

دغه ځانګړی راپور د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما)[2] له خوا چمتو شوی او د نوموړي دفتر د بشري حقونو د څانګې له خوا د ۲۰۲۰ کال د مارچ له ۱۱ څخه، هغه نېټه پر کومې چې د روغتیا نړیوالې اداري د کوویډ-۱۹ خپریدل یوه نړیواله وبا اعلان کړه، د ۲۰۲۰ د مۍ تر ۲۳ پورې، چې د روژې له پای او د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د اختر په شپو ورځو کې د درې ورځني اوربند له پیل سره برابره ده، د وسله والې جګړې اړوند د ټولو هغو پېښو په اړه د ترسره شوې څارنې موندنې وړاندې کوي چې روغتیايي مرکزونه او خوندي شوي پرسونل یې اغېزمن کوي.

تر کتنې لاندې په دغې موده کې، د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ جګړې د ملکي زیان اړول جاري ساتلي، چې هغه هیلې یې نا هیلې کړې چې د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ تر هوکړې په مخکې اونۍ کې د "تاوتریخوالي کمښت" به دوام ومومي. یوناما د هوکړې تر لاسلیک وروسته په مارچ کې په تاوتریخوالي کې زیاتوالی مستند کړي او دغه جریان د اپریل او مۍ په میاشتو کې دوام درلود. د یوه عمومي اوربند یا د بشري مرستو د رسونې لپاره د جګړې د درولو غوښتنې د طالبانو له خوا رد شوې او د مۍ پر ۱۲ نېټه، په کابل کې پر یوه زیږنتون د برید په ګډون تر یوې تاوتریخجنې اونۍ وروسته ولسمشر افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د طالبانو په ضد له فعال دفاعي حالت څخه یرغلیز حالت ته د اوښتو امر وکړ.

د رواني جګړې په وضعیت کې، یوناما ۱۵ داسې پېښې مستند کړې چې تر کتنې لاندې موده کې د روغتیايي خدمتونو برابرول اغېزمن کوي، چې دولس بریدونه یې عمدي وو او په پاتې دریو پېښو کې روغتیا پالنې ته تصادفي زیان شامل و چې د راوني جګړې له امله رامنځ ته شوي. د روغتیا پالنې اړوند زیاتره دغه پېښې- اته عمدي بریدونه او دوه د تصادفي زیان درلودونکې پېښې- طالبانو ته منسوبې شوې. افغان ملي امنیتي ځواکونه د روغتیا پالنې په ضد د دریو هدفي بریدونو مسوول وو. روغتیا پالنې ته د تصادفي زیان یوه پېښه د افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د نښتو پرمهال رامنځ ته شوې. تر ټولو زیاته بوګنونکې برید چې کابل کې د زیږنتون په وارډ تر سره شو د جګړې کوم مشخص لوري ته له منسوب کیدو پرته پاتې شوی او طالبانو سملاسي د مسؤلیت د ادعا نه انکار کړی.

دغه ځانګړی راپور د روغتیا کارمندانو ته اوښتې ضرر، د روغتیايي مرکزونو زیان او نورې هغه لارې چارې مستند کوي د کومو له لارې چې د جګړې ښکیلو خواوو د دواړو هدفي بریدونو او همدارنګه د رواني جګړې له امله په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ وبا پرمهال خورا مهم روغتیايي خدمتونه اغېزمن کړي. یوناما پخوا د ملکي وګړو د ساتنې د کال د لومړیو دریو میاشتو په راپور کې د دغه ډول اندېښنو یادونه کړې.[3] خو له دې سره سره، له هغه وخت راهیسې وضعیت ورځ تر بلې ناوړه شوی: طالبانو د روغتیا پالنې د کارمندانو تښتونې جاري ساتلې او پر یوه درملتون یې برید تر سره کړ؛ افغان ملي امنیتي ځواکونو د تاوتریخوالي او تهدیدونې عمدي کړنې ترسره کړې چې روغتیايي مرکزونه، کارمندان او د طبي سامان الاتو رسونه

> يو ناما د جګړې له ښکيلو خواوو غوښتنه کوي چې د نړيوال اوربند لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي غوښتنه په پام کې ونيسي څو ټوله پاملرنه او سرچينې له يو بل سره د جګړې پر ځای له دغې وبا سره پر جګړې متمرکز کړای شي.

يې اغېزمن کړي؛ او نا معلومو وسله والو په کابل کې پر يوه زېږنتون د نفرت ډک بريد ترسره کړه چې له امله يې په لسګونو ملکي تلفات واوښتل. [4]

دغه راپور په ډاګه کوي چې د دغو بريدونو په پايله کې روغتيا ته اوښتی زيان په ځانګړې ډول د روغتيايي وبا پر مهال، د دغو پېښو د مستقيمو قربانيانو ها خوا لا زيات ځغيږي. آن د جګړې پر مهال، د افغانستان خلک د بشري حقونو تر نړيوال قانون لاندې د جسمي او رواني روغتيا تر ټولو لوړ د ترلاسه کېدونکې معيار حق لري. د دغه حق نه د برخمن کېدل په سخت ډول د هغو پېښو له امله اغېزمن شوي چې په دغه راپور کې تشريح شوې. راپور پر دې ټينګار کوي چې د روغتون په شمول روغتيايي مرکزونو او اړوند پرسونلو په ضد د تاوتريخوالي عمدي کړنې منع دي او د بشرپالنې تر نړيوال قانون لاندې جنګي جرمونه ګڼل کېږي. داسې بريدونه په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په وړاندې يو د هغه شپږو شديد سرغړونو څخه يو تشکيلوي او د دې لامل ګرځي چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي لخوا په وسلواله شخړه کې د ماشومانو په اړه کلنۍ راپور د ضميمو په لست کې شامل شي. په يوه داسې وخت کې چې روغتيايي سرچينې لا وار د مخه له فشار سره مخ دي او ملکي وګړو ته له خورا زيات اهميت څخه برخمنې دي، د کوويډ-۱۹ وبا پرمهال پر روغتيا پالنې د هدفي بريدونو ترسره کول د غندنې وړ دي.

نو له همدې امله، يوناما د روغتيايي مرکزونو او کارمندانو په ضد ټول عمدي بريدونه، ګواښونه، تښتونې او نورې هغه عمدي کړنې چې په دغه راپور کې په ډاګه شوي، په کلکه غندي. يو ناما د جګړې له ښکيلو خواوو غوښتنه کوي چې د نړيوال اوربند[5] لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي غوښتنه په پام کې ونيسي څو ټوله پاملرنه او سرچينې له يو بل سره د جګړې پر ځای له دغې وبا سره پر جګړې متمرکز کړای شي. په يوه داسې وضعيت کې چې په افغانستان کې ټول وګړي د کوويډ-۱۹ له ګواښ سره مخ دي، تر دې بل ستر لومړيتوب شتون نه لري څو ډاډمن کړای شي چې روغتيايي خدمتونه له کومې لاسوهنې او اخلال پرته له بسيا سرچينو سره خپلې چارې پرمخ وړلی شي.

## ۲. د وضعيت مخينه

د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۱۱ نېټې، د روغتيا نړيوالې ادارې د شيوع د کچې او خپريدو له امله د کوويډ-۱۹ ناروغې د يوې نړيوالې وبا په څېر وپېژنده.[6] د افغانستان د عامې روغتيا وزارت د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ پر ۲۴ نېټه د هيواد په هرات ولايت کې د کوويډ-۱۹ لومړی ثبت شوې پېښه تاييد کړه. دغې شيوع ته په غبرګون کې، افغان دولت د روغتيايي سکتور لپاره د غبرګون يو ماسټر پلان جوړ او له مختلفو تخنيکي کاري ګروپونو په درلودو سره يې د بيړني وضعيت د هغمېرۍ د لوړې کچې کمېټه تاسيس کړه. دولت د دغې ناروغۍ د خپريدو د مخنيوي په موخه يو لړ اقدامات ترسره کړل لکه د مارچ پر ۱۴ نېټه د ښوونځيو تړل، د مارچ پر ۲۵ نېټه په هرات ولايت کې د ښار بنديز رامنځ ته کول، چې په تعقيب يې د کابل ښار په ګډون د افغانستان په نورو برخو کې قسمي ښار بنديزونه رامنځ ته شول.[7] د ۲۰۲۰ کال د مارچ په پای کې د بشري مرستو فعالينو وړاندوينه وکړه چې د "کمزوري روغتيايي سيستم او له ستري ناروغۍ سره د تعامل د محدود ظرفيت په پام کې نيولو سره"، او دا چې دغه هيواد له ايران سره نږدې موقعيت لري، کوم چې هغه مهال د دغه ويروس د خپريدو د يوې نړيوالې نقطې په څېر پېژندل شوی و، د دې زيات احتمال شته چې افغانستان د کوويډ-۱۹ له امله "سخت وځپل شي".[8]

د ترکتنې لاندې مودې په پای کې د مې پر ۲۴ نېټه د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د کورونا وایروس له امله ۲۱۸ مړینو په شمول د ۱۰۵۸۲ کسانو مثبتې پېښې مستند کړې، په داسې حال کې چې تمه کېږي د دغو پېښو واقعي شمېر تر دې لوړ وي.[9] د دغه راپور د لیکلو پر مهال، دغه پېښې مخ پر لوړېدو وې او په اړه یې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې راپور ورکړل شوی. له پخوا څخه د نازک روغتیايي سیستم، اوبو او روغتیا پالنې ته د خلکو د محدود لاس رسي، په لوړه کچه خوار ځواکۍ او رواني جګړې د موجوده ننګونو په پام کې نیولو سره، دغې وبا په افغانستان کې نا پیشبیني شوی روغتیايي، ټولنیز او اقتصادي بحران رامنځ ته کړی.[10] د کووېډ-۱۹ له امله، ملګرو ملتونو د بشري غبرګون پلان بشري مرستو ته د اړمنو کسانو په شمیر د پام وړ زیاتوالی اټکل کړی- دغه شمیر د ۲۰۲۰ په پیل کې له ۹.۴ میلیونه څخه اوس ۱۴ میلیونه وګړو ته لوړ شوی (د ټولو وګړو له درییمې برخې څخه زیات).[11]

طالبانو د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۱۶ او ۱۸ نېټه اعلامیې خپرې کړې چې دا یې په ډاګه کوله چې دوی به له کووېډ-۱۹ سره په مبارزه کې له نړیوالو ادارو سره کار وکړي، او د دوی تر کنټرول لاندې سیمو ته به د طبي سامان الاتو، درملو او مرستې لیږد کې اسانتیاوې وکړي. د ۲۰۲۰ کال د اپریل پر ۲ نېټه، د طالبانو ویاند په ډاګه کړه که چیرې د دوی تر ولکې لاندې سیمه کې د کووېډ-۱۹ کومه پېښه رامنځ ته شي[12] ، طالبان به په هغې مشخصه سیمه کې له جګړې لاس واخلي څو روغتیايي کارمندان وکولای شي اړین خدمتونه وړاندې کړي.[13]

یوناما د ۲۰۲۰ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د ملکي تلفاتو د لوړېدو په اړه اندېښنه څرګنده کړې، چې د فبروري پر ۲۹ نېټه د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ د هوکړې تر لاسلیک وروسته په تاوتریخوالی په ډاګه کوي. دغه بهیر تر کتنې لاندې موده کې دوام درلود. تر کتنې لاندې موده کې، هغه هیلې چې د متحده ایالاتو-طالبانو ترمنځ تر هوکړې په مخکې اونۍ کې د "تاوتریخوالي کمښت" به دوام وموي، ناهیلې شوې. د یوه عمومي اوربند یا د بشري مرستو د رسولو لپاره د جګړې د درلولو غوښتنې د طالبانو د مشرتابه له خوا رد شوې، چا چې له کووېډ-۱۹ سره سره دا دریځ غوره کړ، چې یو پایښت لرونکی اوربند یوازې د بریالیو بین الافغاني مذاکراتو په پایله کې رامنځ ته کیدای شي، کوم چې په خپل وار د طالب بندیانو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو توقیفیانو د یوې بریالۍ تبادلې تطبیق ته اړتیا لري.

## د کویډ -۱۹ وبا په افغانستان کې د توقع خلاف د روغتیايي، ټولنیز او اقتصادي بحران لامل شوې

ملګرو ملتونو،[14] اروپایي اتحادیې،[15] د اسلامي همکاریو سازمان[16] او نورو ادارو په افغانستان کې د بشري اوربند مکررې غوښتنې کړې څو دغه وایروس ته پر مناسب بشري غبرګون تمرکز وکړي. طالبانو دا غوښتنه په شمول د هغه اوربند غوښتنې چې د کویډ-۱۹ په مهال د بشري مرستو د سمون په اړه وه ، رد کړه. دوی په خپل هغه موقف ټینګار کاوه چې د هیڅ دایمي اوربند په اړه په تر هغه فکر نه کیږي تر څو بین الافغاني خبرې پیل شي او د طالبانو او امریکا متحده ایالاتو تر منځ د توافق د پلې کیدو په تفسیر یې ټینګار کاوه په ځانګړې ډول چې تر ۵۰۰۰ پورې بندیان یې ازاد شي.

د مې پر ۱۲ نېټه، په ځانګړې ډول تر یوې تاوتریخجنې اونۍ وروسته، ولسمشر اشرف غني په یوه تلویزیوني وینا کې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د راکمولو د ردولو او له اوربند سره د موافقې نه کولو وروسته افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د طالبانو په ضد له فعال دفاعي حالت څخه د وتلو او د هغوی په وړاندې د یرغلیز عملیاتو د پیلولو امر وکړ. د کوچني اختر په شپو ورځو کې (۲۴-۲۶ مې) د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ د درې ورځنې اوربند پرته[17] د کوم پر مهال چې یوناما په تاوتریخوالي کې د پام وړ کمښت مستند کړی، د رواني جګړې له امله ولسي وګړو ته د زیان اوښتلو دوام درلود.

د وسله والې جګړې دوام په مستقیم ډول په افغانستان کې د روغتیايي خدمتونو برابرول اغیزمن کوي، لکه د روغتیايي پرسونلو متضرر کول، د روغتیايي زیربناوو زیانمن کول او د لاس رسي هغه خنډونه چې اړمنو خلکو د خدمتونو رسولو له محدودیتونو سره مخ کوي. په لا پراخ ډول، وسله والې جګړې

د وسله والې جګړې دوام په مستقیم ډول په افغانستان کې اړمنو خلکو ته د روغتیايي خدمتونو برابرول اغېزمن او محدودوي.

همدارنګه د کوویډ-۱۹ له خطرونو سره د افغانانو عمومي زیانمنتوب زیات کړی. زیات شمیر کسان چې د جګړې له امله په داخلي ډول بېځایه شوي په کوویډ-۱۹ د اخته کېدو له ځانګړي خطر سره مخ دي، څرنګه چې هغوی اړ دي څو له ګڼې ګوڼې په ډکو شرایطو، یو بل ته نږدې، او اوبو او د روغتیا پالنې خدمتونو ته له د مناسب لاس رسي پرته ژوند وکړي.

د اختر د مخه اونۍ کې ورځنۍ امنیتي پېښې د ټولو منابع له خوا هر ورځ د ۷۵ او ۹۱ تر منځ پېښې وې، خو د ۲۱ او ۲۶ مې ترمنځ موده کې دا د ۱۷ او ۳۶ پېښو په منځ کې وو.

## ۳. میتودولوژي

دغه راپور د هغو معلوماتو پر بنسټ چمتو شوي چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا راغونډ شوي او د بشري حقونو او د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو په اصولو کې ریښه لري او میتودولوژي یې د ښو مشقونو او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر پر سلا مشورو او لاربښوونو پر بنسټ ولاړه ده. پېښې د یوناما له میتودولوژۍ سره سمې تایید شوي، کومه چې لږ تر لږه دري ډوله مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري. یوناما د مستند شویو شواهدو او بشري منابعو په ګډون له ګڼ شمیر سرچینو څخه معلومات راغونډ کړي، لکه قربانیان، شاهدان، د روغتونونو او روغتیايي کلینیکونو د قربانیانو لیستونه؛ د ولسوالۍ، ولایت او ملي کچو دولتي او امنیتي چارواکي؛ او دغه راز قومي مشران، د مدني ټولنې فعالین او ژورنالستان. یوناما همدارنګه د افغان دولت او دغه راز د طالبانو له خوا ورکړل شوې عامه اعلامیې، خبري راپورونه او د خواله رسنیو حسابونه ګوري، خو هغه تر خپلې میتودولوژۍ لاندې د سرچینو په څیر په پام کې نه نیسي. یوناما دغه راز د ملګرو ملتونو د نورو ادارو په ګډون د څارنې او راپور ورکونې د هیوادني کاري ځواک له نورو غړو[18] څخه معلومات ترلاسه کړي.

د دغه راپور تر خپریدو مخکې، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ته د هرې پېښې په اړه مفصل معلومات وړاندې کړي کومې چې هرې لورې ته منسوب کړای شوي. یوناما معلومات په دې موخه شریک کوي څو د دواړو یوناما او د ښکیلې خوا لپاره د تایید د هڅو کرتوب ډاډمن او د ملکي زیان د مخنیوي او راکمونې په اړه په پراخه کچه همغږېتوب اسانچاري وکړي. یوناما د جګړې ښکیلې خواوې دې ته رابولي چې پخپله د رامنځ ته شویو پېښو څېړنه وکړي او پایلې یې له یوناما او پراخ ډول له عامو خلکو سره شریکې کړي.

## ۴. حقوقي چوکاټ

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې، د جګړې ښکیلې خواوې مکلفې دي چې د نظامي عملیاتو د پلان کولو په ګډون د جګړو د ترسره کولو پرمهال د تفکیک، احتیاط او تناسب اصولو ته درناوی وکړي. د بشري حقونو نړیوال قانون همدارنګه د اړوند حقوقي چوکاټ یوه برخه جوړوي. دولتونه باید د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د خپل قلمرو په د ننه کې یا د هغوی د قضائی صلاحیت تر سیمو لاندې افرادو په تړاو خپلو مکلفیتونو ته درناوی وکړي؛ هغه نا دولتي فعالین چې د قلمرو موثر کنترول لري او یوه دولت ته ورته چارې ترسره کوي، باید د بشري حقونو نورمونو ته درناوی وکړي.

د تفکیک اصل په ډاګه کوي چې د جګړې ښکیلې خواوې تل باید د ملکیانو او جنګیالو ترمنځ تفکیک او توپیر وکړي. هغه بریدونه چې ښايي یوازې د جنګیالیو او نظامي موخو په وړاندې ترسره شي، نه باید د ملکیانو او ملکي شیانو په وړاندې ترسره شي.[19] د ملکیانو او ملکي شیانو په ضد مستقیم بریدونه د

بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې منع دي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.[20]

هغه بریدونه په کومو کې چې د ملکي وګړو د اتفاقي مرګ ژوبلې د رامنځ ته کیدو شونتیا موجوده وي، او نور د انګیزل شوي واقعي او نظامي ګټو وراخوا د ځواک کارونه وي، د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې منع دي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي.[21] د جګړې هر ښکیل لورى باید د ملکي وګړو د اتفاقي مرګ ژوبلې او ملکي شیانو ته د زیان اوښتو د مخنیوي او تر ټولو ټیټې کچې ته د هغې د راکمولو په موخه، د جګړې د وسایلو او کړنلارو د غوره کولو پر مهال ټول ممکنه احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي.[22] د بشرپالنې تصریح کوي چې ناروغ او ټپي کسان باید د ارتیا سره سم طبي پاملرنه ترلاسه کړي، او د جګړې ښکیلې خواوې مکلفې دي چې له ناوړه چلند څخه د هغوی د خوندي کولو لپاره ټول ممکنه اقدامات ترسره کړي؛[23] په دغې ساتنه کې د جګړې د ښکیلو خواوو هغه غړي شامل دي څوک چې د ټپونو یا ناروغۍ له امله يې دفاع شوي، او "له جګړې څخه لویدلي." تر کومه چې دوی له هر ډول جګړه ییز عمل څخه ډډه کوي او د تېښتې هڅه نه کوي، د دغو جنګیالیو لپاره باید ټوله ممکنه طبي پاملرنه برابره شي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې له جګړې پر لویدلو کسانو برید کول جنګي جرم ګڼل کیږي.[24]

ملکي وګړو ته د طبي پاملرنې او مرستې د لومړنیو برابروونکو په څیر، طبي پرسونل او مرکزونو ته د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې په څرګند ډول ځانګړې خوندیتوب او ساتنه برابر شوې. [25] طبي پرسونل، واحدونه او ترانسپورت ته باید درناوی

## طبي پرسونلو او مرکزونو ته د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې په څرګند ډول ځانګړې خوندیتوب او ساتنه برابر شوې.

وشي او خوندي وساتل شي، او د دې پرسونل موجوده ټول مرسته وشي تر څو دوي خپل دنده ترسره کړای شي.[26] د بشرپالنې نړیوال قانون همدارنګه د طبي موخو لپاره کاریدونکي سامان الات او تدارکات خون دي ګڼي.[27] د جګړې هغه ښکیلې خواوې چې د نظامي موخو لپاره روغتیايي مرکزونه کاروي لکه د هغوی په دننه پناه اخیستل، ښايي دغه مرکزونه له برید څخه د خوندیتوب له لاسه ورکولو لامل شي او هغه له خطر سره مخ کړي.[28] په مشخصو شرایطو کې، په ځانګړي ډول کله چې دریم ګړی لوري د کار په کولو یا د هغه نه  منع کولو باندې مجبور شي د طبي کارمندانو تښتول کولی شي د یرغمل نیونې تر کچې ورسیږي، کوم چې جنګي جرم وګڼل شي.[29] د بشري حقونو نړیوال قانون د دغو کړنو پر بنسټ تښتونه منع کوي او هغه له ازادۍ څخه خپل سري محرومونه ګڼل کیږي.[30]

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې، د اشخاصو د جسمي او رواني روغتیا تر ټولو لوړ د ترلاسه کیدونکي معیار د حق په ګډون، په سوله ییزو او جګړه ییزو حالاتو کې ټول بشري حقونه د تطبیق وړ دی – او باید درناوی او ساتنه يې وشي.[31]

# ۵. د روغتیا پالنې پر وړاندې عمدي بریدونه[32]

د ۲۰۲۰ کال د مارچ له ۱۱ د مۍ تر ۲۳ پورې، یوناما ۱۲ داسې پېښې مستند کړې په کومو کې چې د جګړې ښکیلو خواوو د تاوتریخوالي عمدي کړنې ترسره کړې یا د روغتیايي کارمندانو په چارو یا مرکزونو کې يې لاسوهنه کړې، چې د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال د خورا مهمو روغتیايي خدمتونو د برابرونې د اخلال لامل شوې.

زیاتره دغه عمدي بریدونه د طالبانو له خوا ترسره شوې. یوناما طالبانو ته اته پېښې منسوب کړې، چې زیاتره يې د روغتیايي کارمندانو له تښتونې او دغه راز د درملتون په وړاندې له بریدونو تشکیل دي. درې پېښې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې، چې پر یوه روغتیايي مرکز له هوايي برید، د روغتیايي کارمندانو له تهدیدونې او د طبي مرستو له لوټلو تشکیل شوې. په کابل ښار کې پر یوه روغتون د د نفرت ډک برید مسوول لوری لا تر اوسه نامعلوم پاتې دی.

## لومړی. طالبان

### *د روغتیايي کارمندانو تښتونې*

تر کتنې لاندې مودې په اوږدو کې، طالبانو د افغانستان په شپږو ولایتونو او سیمو کې په اوو جلا پېښو کې ۲۳ روغتیايي کارمندان تښتولي.[33] دغه تښتول شوي روغتیايي کارمندان په اوسط ډول د ۱۲ ورځو او د تښتونې له اوږدې مودې سره د ۲۶ ورځو لپاره یرغمل ساتل شوي وو.[34]

د طالبانو له خوا د روغتیايي کارمندانو د تښتونې په ځینو قضیو کې د دغو پېښو تر شا انګېزه نامعلومه وه؛ په ځینو نورو هغو کې د راپورونو له مخې دغه تښتونې د دې هڅې په موخه ترسره شوي چې روغتیايي کارمندان یا هغه ادارې چې دوی ورسره کار کوي تر فشار لاندې راولي څو د ټولنې لپاره ښه خدمتونه برابر کړي او د هغو روغتیايي کارمندانو معاشات تادیه کړي، کوم چې د ادعاوو له مخې ځنډول شوي. د مثال په ډول، د مارچ پر ۲۲ نېټه د کنړ ولایت په چپه دره ولسوالۍ کې د طالبانو یوې ډلې د یوې نادولتي ادارې روغتیايي کارمندان وتښتول چا چې د دولت له خوا ورسپارل شوې دندې ترسره کولې. د راپورونو له مخې طالبانو پر هغوي تور پورې کړ چې ځايي خلکو ته په مناسب ډول د خدمتونو په برابرولو کې پاتې راغلي؛ دغه کارمندان د قومي مشرانو په منځګړیتوب دوه ورځې وروسته راخوشې کړای شوي. همدارنګه د اپریل پر ۲۰ نېټه، د کنړ ولایت په مروره ولسوالۍ کې، طالبانو د مختلفو نا دولتي ادارو له خوا ګمارل شوي دوه روغتیايي کارمندان په دې تور وتښتول، چې د راپورونو له مخې یې په ولسوالۍ کې د ټراما د مرکز لپاره اړین سامان الات او پرسونل نه برابرول؛ تښتول شوي کارمندان تر ۱۹ ورځو وروسته بېرته خوشې کړای شوي. د مۍ پر ۱۲ نېټه، د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې طالبانو د یوې ادارې چې د کارمندانو د معاشاتو په نه ورکړې تورنه وه، درې روغتیايي کارمندان وتښتول.

د تښتونې د انګېزې په پام کې نیولو پرته، د روغتیاي کارمندانو تښتول – په مسلکي لباس کې د هغوي له رسمي دندو د هغوي لرې کول – د هیڅ ډول حالاتو له مخې د توجیه وړ نه دي او په نهايي ډول د روغتیايي خدمتونو پر برابرونې منفي اغیز کوي. دغه کار نه یوازې د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې له هغوي د ازادۍ خپل سرې محرومیت ګڼل کېږي، بلکې همدارنګه په افغانستان کې خلک له هغو مهمو روغتیايي خدمتونو بې برخې کوي، چې د دغې وبا پر مهال په زیاتیدونکې ډول مخ په کمیدو دي. سربېره پر دې، د تقویه شویو امنیتي تدابیرو او په مشخصو سیمو کې د روغتیايي کارمندانو د سفر په مخنیوي سره، د روغتیايي کارمندانو تښتونه به په لاس رسي کې د زیاتو خنډونو لامل شي. په هغو قضیو کې چیرې چې طالبانو یوه اداره د دغه ډول فرد یا افرادو د خوندیتوب لپاره د صریح یا ضمني شرط په څیر د یوه کار اجرا یا منع ته اړ ایستلې وي، ښايي یرغمل نیول وشمېرل شي کوم څه چې یو جنګي جرم او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ګڼل کېږي. یوناما له طالبانو غوښتنه کوي چې د روغتیايي کارمندانو په شمول ملکیانو تښتونه ژر تر ژره ودروي او خپلو جنګیالیو ته لارښوونه وکړي چې د دوی تر ولکې لاندې سیمو کې له فعالیت کوونکو کسانو سره شخړې د بشري حقونو له نړیوال قانون د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په تطابق کې حل کړي.

### *د یوه درملتون پر وړاندې عمدي برید*

د ۲۰۲۰ کال د اپریل پر ۲۱ نېټه، د ننګرهار ولایت په خوګیانو ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا په یوه شخصي درملتون کې ځای پر ځای شوی ریموټي بم وچاودید چې له امله یې د یوه ۱۳ کلن هلک او د نوموړي روغتون د یوه ډاکټر په ګډون، اته ملکي نارینه ژوبل شول. د راپورونو له مخې طالبانو د دغه درملتون مالکین د مشخصې اندازې د پیسو په ورکړه یا له برید سره په مخ کیدو ګواښلي وو. د ملکي تلفاتو او یوه روغتیايي کارمند ته د زیان سربېره، د راپورونو له مخې نوموړي درملتون د لسګونه زره امریکايي ډالرو په ارزښت درمل له لاسه ورکړي.

**د روغتیايي کارکونکو تښتول – د ستونزو په مهال هغوي د رسمي دندو ګوښه کول- په هیڅ حالت کې د توجیه وړ ندی او اخري پایله یې د روغتیايي خدمتونو عرضه کول په منفي ډول اغیزمنوي.**

یوناما د درملتون پر وړاندې د دغه عمدي برید په اړه کوم چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د یوه طبي واحد په څیر خوندی دی او د یوه روغتیایي کارمند په ګډون ملکیانو ته د اوښتي زیان په اړه سخته اندېښمنه ده. یوناما طالبانو ته د دې یادونه کوي چې د ملکي وګړو او ملکي شیانو په ضد عمدي بریدونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې دي کومې چې شایي جنګي جرمونه وګڼل شي. یوناما همدارنګه د درملتون څښتن ته د راپور شویو ګواښونو په اړه اندېښمنه ده، کوم چې افغان وګړو ته د مهمو روغتیایي خدمتونو پر وړاندې کولو کې لاسونه او اغیز کوي. روغتیایي کارمندان او د خدمتونو برابرونکي باید د دې وړ وي چې د کومې ویرې پرته خپلې چارې پرمخ یوسي.

### دویم. افغان ملي امنیتي ځواکونه

### *له یوه روغتیایي مرکز بهر پر ټپي طالبانو هوایي برید*

ترکټنې لاندې مودې پر مهال، یوناما د افغان هوایي ځواک له خوا په شمال ختیځو سیمو کې په یوه روغتیایي مرکز کې پر ټپي طالبانو عمدي هوایي برید مستند کړی، چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه یوه څرګند سرغړونه په ډاګه کوي.

د مۍ پر ۱۹ نېټه، د کندز ولایت په چهار دره ولسوالۍ کې د افغان هوایي ځواک یوې الوتکې له یوه روغتیایي کلینیک څخه مازې بهر په یوه نقلیه وسیله کې ټپي طالبان په نښه کړل چیرې چې د نورو طالبانو درملنه کیده. د هغو طالبانو د وژنې او ژوبلولو سربیره چې له خپلو ټپیانو سره مله وو، دغه هوایي برید لږ تر لږه دوه نور ملکیان چې له کلینیک څخه بهر ولاړ وو، ووژل: د کلینیک د امبولانس ډرایور او یو بل شخص چې

**په عمدي ډول د هغه موټر په نښه کول چې ټپي جنګیالي انتقالوي، دا په طبي ترانسپورت برید بلل کیږي ، چې د نړیوال بشر بشر دوستانه قانون له مخې منع دی.**

کلینیک ته د وینې د ورکړې لپاره راغلی و. د کلینیک دوه روغتیایي کارمندان برسیرن ټپي شوي وو چې له لومړۍ مرستې پرته یې طبي درملنې ته اړتیا نه درلوده. د بیړنۍ او د ساتونونکو د خونو په ګډون، د کلینیک درې خونې او دغه راز د کلینیک دیوالونه سخت زیانمن شوي. د کلینیک زیاتې کړکۍ او امبولانسونه ویجاړ شوي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډون د سرچینو له معلوماتو سره سم، دغه هوایي برید په عمدي ډول هغه جنګیالي ټپي طالبان (له جنګه لویدلي) په نښه کړي چې کلینیک ته راوړل شوي وو. د جون تر ۲ نېټې پورې روغتیایي خدمتونه بېرته نه وو پیل شوي.

یوناما د دغې پېښې په اړه سخته اندېښمنه ده، نه یوازې پر روغتیایي مرکز او کارمندانو د هغې د اغیز له امله بلکه همدارنګه له دې امله چې په نوموړې پېښه کې له جګړې څخه د لویدلو د هغو جنګیالیو ټپیانو عمدي په نښه کول شامل دي، څوک چې له زیان څخه د مشخص خوندیتوب درلودونکي او د طبي پاملرنې په لټه کې وو. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې له جګړې څخه د لویدلو اشخاصو عمدي په نښه کول یو جنګي جرم ګڼل کیږي. څرنګه چې هوایي برید د روغتیایي کلینیک په اړوند سیمه او روغتیایي کارمندانو او ناروغانو ته خیرمه ترسره شوی، دغه پېښه ملکي وګړو او ملکي شیانو ته د زیان د مخنیوي په موخه د ټولو ممکنه تدابیرو په پام کې نیولو اړتیا ته د افغان هوایي ځواک د درناوي په تړاو جدي پوښتنې را ولاړوي. سربیره پر دې، په عمدي ډول د یوې نقلیه وسیلې په نښه کول چې ټپي جنګیالي لیږدوي پر طبي ترانسپورټ برید ګڼل کیږي کوم چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې منع دی. هر څوک په شمول د طالبانو د جنګیالو د دې حق لري چې د تبعیض پرته روغتیا پالنې ته لاس رسی ولري. یوناما له افغان دولت څخه غوښتنه کوي چې دغه پېښه په بشپړ ډول وڅیړي، چیرې چې اړوند وي د احتساب تدابیر ترسره کړي، او په راتلونکې کې د دغو پېښو له تکرار څخه د مخنیوي په تړاو له څرګندو سپارښتنو سره د "د ټپر زده شویو لوستونو" په پیاوړو تمرینونو کې شامل شي.

### روغتیايي کارمندانو ته ګواښونه او د طبي مرستو لوټل

یوناما تر کتنې لاندې مودې په اوږدو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب دوه داسې پېښې مستند کړې په کومو کې چې دوی د ګواښونو او طبي مرستو لوټلو له لارې په عمدي ډول روغتیايي خدمتونه له خنډونو سره مخ کړي.

د اپریل پر ۲۶ نېټه، د ننګرهار ولایت په خوګیاڼو ولسوالۍ کې د افغان ملي سرحدي ځواک سرتېري د خوګیاڼو عامه روغتون ته په داسې حال له ټپي سرتیرو سره را ورسیدل چې هوايي ډزې يې کولې. ډاکټرانو د سرحدي ځواک د هغو ټپي سرتیرو درملنه وکړه چې د هیموي په پېښه کې ټپي شوي وو، خو کله چې هغوی له ډاکټرانو د وژل شویو سرتیرو د جسدونو د غسل غوښتنه وکړه، هغوی رد کړه کوم څه چې د هغوی د منظمو طبي دندو برخه نه وه. د دې په غبرګون کې، افغان سرحدي ځواک د ډاکټرانو د ویشتلو ګواښ وکړ. د راپورونو له مخې د خوګیاڼو ولسوال د افغان سرحدي ځواک د قوماندان دغه عمل په شفاهي ډول غندلی، خو یوناما د حساب ورکونې د نورو ترسره شویو اقداماتو په اړه کوم خبر نه لري.

په ورته ورځ د بلخ ولایت په زارع ولسوالۍ کې د تلاشي په یوه پوسته کې، افغان ملي اردو د زارع ولسوالۍ د مرکز په لور روانې دوه تجارتي لارۍ ودرولې او هغه طبي مرستې يې لوټ کړې چې هغوی یوې ځايي نادولتي ادارې ته لیږدولې. افغان ملي اردو نوموړې نا دولتي اداره له طالبانو سره د طبي مرستو په ملاتړ تورنه کړه.

یوناما پر دې ټينګار کوي چې د روغتیايي پرسونلو عمدي تهدیدونه او طبي مرستو لوټل د مهمو خدمتونو برابرول له خنډ او ځنډ سره مخ کوي او له همدې امله د افغانستان د ټولو خلکو د جسمي او رواني روغتیا تر ټولو لوړ د ترلاسه کیدونکي معیار حق اغیزمن کوي.

## د نامعلومو وسله والو له خوا په کابل کې د یوه روغتون د زیږنتون پر وارډ برید او د یوې مؤثرې څېړنې لپاره اړتیا

روغتیايي مرکز باندې دغه مرګوني برید د بیا کتنې د مودې پر مهال د مۍ پر ۱۲ نېټه د نا معلومو دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شو، چې د کابل ښار په یوه روغتون کې يې ملکیان د زیږنتون وارډ کې په نښه کړې وو. د ادعاوو له مخې، سهار مهال دریو بریدګرو چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو یونیفورم پر ځان او پر کلاشینکوفونو، تاکتیکي واسکټونه او لاسي بمونو سمبال وو، د کابل په برچي سیمه کې پر یوه روغتون برید وکړ. د روغتون په دروازه کې د امنیتي ساتونکي تر وژنې وروسته، هغوی روغتون ته داخل شول او په سیستماتیک ډول له یوې خونې بلې ته وښوریدل ترڅو چې په مستقیم ډول د زیږنتون څانګې ته ورسیدل. دغه مهال په نوموړې څانګه کې ۲۸ ښځې موجود وې. بریدګرو پر ناروغانو برید وکړ او پر هغوی يې لاسي بمونه وغورځول. د برید په پایله کې ۲۴ کسان ووژل شول ، چې په دې کې ۱۹ ښځې او درې ماشومان شامل وو،[35] او د ۱۲ ښځو، دوه ماشومانو او یو نوي زیږیدلي ماشوم په ګډون ۲۳ ملکي وګړي ټپي شول. په برید کې د وژل شویو په منځ کې یوه ښځینه روغتیايي کارکونکې هم وه .که چیرې د افغان ملي پولیسو د چټک غبرګون قطعي له روغتون څخه له ۹۰ څخه زیات خلک ایستلي وو، چې د زیات شمېر ملکي وګړو د تلفاتو مخه يې ونیوله .

د بې پولې ډاکټرانو له معلومات سره سم چا چې د زیږنتون چارې اداره کولې، د وژل شویو ترمنځ ۱۵ میندې وې چې پنځه يې د برید پر مهال د زیږون په حالت کې وې. په ورته ورځ طالبانو د

ټوېټر له لارې د دغه برید مسوولیت رد کړ.[36] لا تر اوسه هیڅ لوري د دغه برید مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی. دولت د پېښې د څېړنې په موخه یو لوړ پوړی هیئت تاسیس کړی، کوم چې د پېښې له صحنې لیدنه کړې او له عیني شاهدانو او د قربانیانو له ځینو خپلوانو سره یې لیدلي. په یوه اعلامیه کې چې د جون پر ۳ نېټه خپره شوه، بې پولې ډاکټرانو دا په ډاګه کړه چې له هغې سره د پېښې د څېړنې په تړاو اړیکه نه ده نیول شوې، چې د څېړنې د هڅو د تقویت په اړه پوښتنې راولاړوي. نوموړې ادارې له هغه وخت راهیسې زیږنتون تړلی او خپلې چارې یې ځنډولې او په ډاګه کړې یې ده چې د دغه برید له امله ښځې او ماشومان د ژوند ژغورونکې طبي پاملرنې څخه بې برخې شوې.[37] د جون په ۱۵ نېټه دې موسسې خپله پرېکړه اعلان کړه چې هلته خپل فعالیتونه دروي او د دښت برچي د روغتون نه راوځي، چېرې چې دوی د ۲۰۱۴ راهیسې فعالیت کاوه. د بې پولې ډاکټران ډلې ویلي چې دا برید د دې لامل شو چې ښځې او نوې زیږیدلي ماشومان د بنسټیز طبي خدمتونو محروم شي.[38]

یوناما په دغې پېښه کې د وسله والو له خوا د ټولنې د غړو په وړاندې – امیدواره ښځې او نورې هغه چې تازه یې زیږون کړی – څوک چې باید له وسله والې جګړې تر ټولو زیات ساتل شوی وای، د بې مانا ترسره شوي تاوتریخوالي له امله سخته نارامه شوې. روغتون او طبي پرسونل ملکي وګړو ته د روغتیايي پالنې او مرستې د لومړنیو برابرونکو ترمنځ دي او په دغه ډول د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د ځانګړې ساتنې/خوندیتوب درلودونکي دي. پر روغتیايي خدمتونو ملکي ناروغانو دغه عمدي برید د نړیوال قانون څرګنده سرغړونه ده او ښایي جنګي جرم وګڼل شي. د دغه برید تر شا مسوول لوری لا تر اوسه نامعلوم دی، کوم څه چې د یوې موثرې، هر اړخیزې او شفافې څېړنې بېړنۍ اړتیا په ډاګه کوي.

یوناما افغان دولت د پېښې په اړه د خپلې څېړنې بشپړولو، له خلکو سره د موندنو شریکولو او داسې ګامونو پورته کولو ته هڅوي څو ډاډمن کړي چې قربانیانو او د هغوی کورنیو په ځانګړې ډول هغو نو زیږدي ماشومانو لپاره چې خپلې میندې یې له لاسه ورکړې، مناسبې مرستې برابرې شوې.

# ۶. د روان تاوتریخوالي نورې هغه پېښې چې روغتیا پالنه اغیزمنه کوي

پر روغتیا پالنې د عمدي بریدونو سربېره، روغتیايي مرکزونه او کارمندان د وسله والې جګړې د عمومي شوي تاوتریخوالي له امله لا اوس هم اغیزمن کیږي، چې له امله یې روغتیايي مرکزونه زیانمن شوي، ملکي وګړي او روغتیايي کارمندان متضرر شوي او طبي ترانسپورت له ګواښونو سره مخ شوی. یوناما د کتنې لاندې مودې پرمهال درې دغه ډول پېښې مستند کړې.

په لومړۍ پېښه کې، یو روغتون وسله والو جګړو ته د نږدې موقعیت له امله زیانمن شوی. د مارچ پر ۲۴ نېټه، د تخار ولایت په دشت قلعه ولسوالۍ کې د طالبان او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ یوه روغتون ته څېرمه جګړه پیل شوه چې د جګړې په پایله کې دواړو خواوو غیر مستقیمي دول کاریدونکې وسلې کارولې، د طالبانو له خوا په برید د توغول شوي راکټ له امله یو ۱۴ کلن هلک ووژل شو او دوو هلکانو په ګډون درې نور ولسي وګړي ټپي شول؛ هاوان یو مرمۍ چې د یوه لوري لخوا پر روغتون ولګید چې په لسګونو زره ډالر زیان یې واړوه.

دوه نورې پېښې پر افغان ملي امنيتي ځواکونو د طالبانو د بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي. د مې پر ۱۶ نېټه، د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې طالبانو د افغان ملي پولیسو پر چیک پواینټ باندې د سپکو وسلو برید وکړ. په ورته وخت کې، یو امبولانس د پولیسو په ملتیا چټک مزل کاوه. د طالبانو له خوا فایر شوې مرمۍ د تعقیبي موټر پر ډرایور ولګیده چې هغه یې ټپي کړ، او د طبي توکو د کاروان خوندیتوب چې د خپل هدف پر لور روان و، له ګواښ سره مخ کړ. د همدې ورځې پر ماښام د فراه ولایت په قلعه خاک ولسوالۍ کې، طالبانو د افغان ملي پولیسو د تلاشۍ پر پوسته برید وکړ چې له امله یې وسله واله جګړه رامنځ ته شوه او د نږدې ځلور ساعتونو لپاره یې دوام وکړ. د جګړې پر مهال، طالبانو د افغان ملي پولیسو پر لور د راکټ یوه سرګولوله وتوغوله کومه چې د یوې نا دولتي ادارې له خوا پر یوه اداره کیدونکې روغتون ولګیده کوم چې د تلاشۍ پوستې ته د ۸۰ تر ۱۰۰ میترو په واټن کې موقعیت درلود. د دغې پېښې په پایله کې په مرکز کې یو روغتیايي کارمند، د کلینیک اشپز او یوه ښځینه ناروغه ټپي شول. سربېره پر دې، د ودانۍ درې خونې، د کلینیک ګرد چاپېره دیوالونه، او زیاتره کړکۍ او دروازې زیانمن شوې. د نښتې پر مهال، طالبانو په کلینیک کې پناه اخیستې وه، چې په ودانۍ کې یې د ټولو ناروغانو او روغتیايي کارمندانو روغتیا او خوندیتوب له خطر سره مخ کړی و.

یوناما د روغتیا په سکتور کې د معمول شوي تاوتریخوال د اغیز په اړه اندېښمنه ده. یوناما د بشرپالنې تر نړیوال قانون

## یوناما د روغتیايي سکتور په وړاندې عام شوي تریخوالي د اغیز په اړه اندېښمنه ده او په جګړه کې ښکېلو لورو ته د دوي د مکلفیت یادونه کوي چې خوندیتوب په اړه یې ټول ممکن احتیاطي تدابیرو کار واخلي تر څو روغتیايي مرکزونه او پرسونل یې د برید خوندي اوسي.

لاندې د جګړې ښکیلو خواوو ته د هغوي د مسوولیت یادونه کوي چې ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ترسره کړي څو ډاډمن کړي چې روغتیايي مرکزونه او کارمندان له بریده خوندي دي، او د جګړې له ښکیلو خواوو غوښتنه کوي چې په ګڼ میشتو ملکي سیمو په ځانګړې ډول د روغتیايي مرکزونو په شا و خوا سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو کارونه ودروي. دغه راز د جګړې ښکیلې خواوې باید د نظامي موخو لپاره د طبي مرکزونو له کارونې ډډه وکړي، له جګړې څخه د اغېزمن شویو جنګیالیو له خوا په دغو مرکزونو کې د پناه اخیستلو په ګډون ځرنګه چې ښايي دغه کار د روغتیايي مرکز د خوندیتوب له لاسه ورکولو لامل شي او روغتیايي پرسونل او روغتیايي مرکز له خطر سره مخ کړي.

# ۷. سپارښتنې

یوناما په دې اړه سخته اندېښمنه ده چې د یوه عمومي اوربند یا د بشري مرستو د رسونې لپاره د جګړې د درولو تر مکررو غوښتنو وروسته بیا هم طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو جګړه جاري ساتلې- او تر اختریز اوربند په مخکې اونیو کې دواړو خواوو خپل یرغلیز عملیات زیات کړي. د اختر په شپو ورځو کې د تاوتریخوالي له کمښت او له امله یې ملکي وګړو ته د اوښتي زیان کې کمښت سره سره جګړه بیا پیل شوې، او دغه کار داسې مهال رامنځ ته کیږي چې په افغانستان کې د کووید-۱۹ پېښې مخ پر زیاتېدو دي.

د دغې وبا پر مهال، یوناما پر روغتیا پالنې عمدي بریدونه، په لاس جوړ چاودیدونکو توکو برید، تښتونې او د ګواښونو کړنې، یو هوايي برید او په پراخه کچه ډزې مستند کړي. یوناما دغه د توجیه نه وړ بریدونه غندي کوم چې په ځانګړې ډول د کووید-۱۹ د نړیوالې وبا پر مهال ډېر ناوړه و، په داسې حال کې ټول خلک د کووید-۱۹ له امله له څو اړخیز ناورین سره مخ دي. روانه جګړې همدارنګه د روغتیايي خدمتونو اغېزمن کول جاري ساتلي، کوم چې له برید څخه د روغتیايي مرکزونو او پرسونلو د خوندي کولو د مکلفیت په رعایت کولو کې د

جګړې د ښکیلو خواوو پاتې راتلل په ډاګه کوي. دغه پېښې لا وار د مخه د افغانستان نازک روغتیايي خدمتونو لا پسې کمزوري کړي، په داسې یوه وخت کې چې ټولې هڅې باید په افغانستان کې د روغتیايي سیستم د ظرفیت پر زیاتولو، موثریت او ملاتړ متمرکزې شي، په تېره بیا هغه مهال چې غوښتنې مخ پر زیاتیدو وي.

د ملکي وګړو د ساتنې لپاره دا خورا مهمه ده څو طالبان او د افغانستان حکومت اوس جګړه ودروي. لږ تر لږه، یوناما د جګړې له ښکیلو خواوو پر راتلونکو سپارښتونو د سملاسي عمل کولو غوښتنه کوي څو د دواړو جګړې او د کووید-۱۹ څخه د افغانستان د خلکو د زیات زیانمن کیدو مخه ونیول شي.

**طالبان**

- د ملکي وګړو د تښتونې او تهدیدونې سملاسي ودروئ په ځانګړې ډول په شمول د دولتي پرسونل او د نا دولتي ادارو د هغو کارمندانو چې د روغتیا په سکتور کې کار کوي ؛ طالبانو غړیو ته لارښونه وکړئ چې په خپلو سیمو کې د فعالیت کوونکو افرادو سره لانجې د نړیوال بشردوستانه قانون په متابعت کې حل کړي او ډاډمن کړئ چې دغه ډول لارښونې له ټولو طالب جنګیالیو سره د نظامي کمیسیون د لارې او د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایتو کمیسیون په ملاتړ ابلاغ شي ؛
- د طالبانو له خوا د روغتیايي کارمندانو د تښتونې ټولې پېښې وڅیړئ، چیرې چې اړتیا وي د احتساب اقدامات ترسره کړئ او د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایتو کمیسیون له لارې د څیړنو پایلې له خلکو سره شریکې کړئ؛
- د ملکي شیانو په ځانګړي ډول روغتیايي مرکزونو په ضد عمدي بریدونه ژر تر ژره پای ته ورسوئ؛
- د روغتیايي مرکزونو نظامي کارونه ودروئ او مخنیوی یې وکړئ؛
- په ګڼ میشتو ملکي سیمو په ځانګړي ډول د روغتیايي مرکزونو په شا و خوا سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو ګذارول ودروئ، او د ملکي شتمنبو له څنګ یا منځ څخه د جګړو کولو نه ډډه وکړئ.

**افغان دولت**

- له جګړې څخه پر لویدلو کسانو او طبي ترانسپورت عمدي بریدونه سملاسي ودروئ، په ځانګړي ډول هغه مهال کله چې روغتیايي مرکزونو ته نږدې وي، کوم چې په لا پراخ ډول د روغتیا پالنې پر برابرولو ناوړه اغیز لري؛
- د تشو په ګوته کولو او وړاندیز شویو بدلونونو د تطبیق په موخه د "هدف نه ګرځولو د لست" د کارونې او د هوايي بریدونو له ترسره کولو مخکې د فعالو احتیاطي تدابیرو له لارې سملاسي د هدف د تثبیت د طرز العملونو یوه بشپړه بیا کتنه ترسره کړئ؛
- د روغتیايي کارمندانو په ضد د عمدي تهدیدونو او په طبي مرستو کې د لاسوهنې ټولې پېښې – د هغو پېښو په ګډون چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي، وڅیړئ، چیرې چې اړتیا وي د احتساب اقدامات ترسره کړئ او له خلکو سره یې موندنې شریکې کړئ؛
- په ګڼ میشتو ملکي سیمو په ځانګړي ډول د روغتیايي مرکزونو په شا و خوا سیمو کې د هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو ګذارول ودروئ او د ملکي شتمنیو په څنګ کې د پوستو جوړولو او په جګړه کې د ښکېلیدو ډډه وکړئ.

**د غوڅ ملاتړ ماموریت**

- له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره خپل د "روزنې، سلا مشورې، مرستې" نقش جاري وساتئ څو د بشرپالنې له نړیوال قانون سره د هغوی متابعت ،دې کې پرمختګ او د ملکي تلفاتو د مخنیوي کې مرسته وکړي.

# ۷.پایي لیک

[1] د راپور د نظارت په مهال ( ۱۱ مارچ – ۲۳ مي ۲۰۲۰) پورې نړیوال امنیتي ځواکونو ته داسې هیڅ کوم پېښه نده منسوب شوې چې په هغه کې روغتیايي مرکز اغېزمن شوی وي. دولت پلوه ځواکونو ته ټول منسوب شوې پېښې افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب شوې.

[2] دغه راپور د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د یوناما د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۴۸۹ (۲۰۱۹) په تعقیب چمتو شوی چې "د ملکي وګړو وضعیت وڅاري، هڅې همغږې کړي څو د هغوي خوندیتوب ډاډمن کړي، [...] احتساب ته وده ورکړي، [... او د افغانستان د اساسي قانون او هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان یې غړیتوب لري د بنسټیزو ازادي ګانو او د بشري حقونو د احکامو په ځانګړې ډول له بشري حقونو څخه د ښځو او نجونو د بشپړ برخمن کیدو په اړه د احکامو له بشپړ تطبیق سره مرسته وکړي." یوناما د ماشومانو په ګډون پر ملکي وګړو د وسله والې جګړې د اغیز د راکمولو په موخه یو لړ فعالیتونه ترسره کوي. په دغو فعالیتونو کې د هغو پېښو په اړه په کومو کې چې ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وي د خپلواکو او بې طرفه حقیقت موندنو ترسره کول، د جګړې له ښکیلو خواوو سره مدافعه او داسې نوښتونه شامل دي چې د بشرپالنې له نړیوال قانون، بشري حقونو قانون او دغه راز د افغانستان له اساسي قانون او نورو قوانینو سره تطابق ته وده ورکوي.

[3] یوناما، په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه: د لومړۍ ربع راپور، (۲۷ اپریل ۲۰۲۰)، پر راتلونکې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[4] نوي ملکي تلفات او تمایلات به د یوناما د ملکي وګړو د خوندیتوب په شپږ میاشتني راپور کې نشر شي ( تمه ده جولای ۲۰۲۰ کې خپور شي)

[5] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.un.org/press/en/2020/sgsm20018.doc.htm

[6] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.who.int/dg/speeches/detail/ who-director-general-s-opening-remarks-at-themedia-briefing-on-covid-19---11-march-2020.

[7] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-flash-update-daily-brief-covid-19-no-20-27-march-2020.

[8] هیود کې د کوویډ-۱۹ ګڼ سکتوري ملي پلان: افغانستان (۲۴ مارچ ۲۰۲۰) وګورئ:
https://www.humanitarianresponse.info/sites/www.humanitarianresponse.info/files/documents/files/covid-19_multi-sector_country_plan_afghanistan_final.pdf.

[9] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-flash-update-daily-brief-covid-19-no-47-24-may-2020.

[10] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-flash-update-daily-brief-covid-19-no-49-31-may-2020 and https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-flash-update-daily-brief-covid-19-no-31-9-april-2020.

[11] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.unocha.org/story/afghanistan-un-and-humanitarian-partners-continue-assist-covid-19-response

[12] پر ټویټر پاڼه (https://twitter.com/suhailshaheen1/status/1239594471576256512?s=20) او د طالبانو پر انټرنیټ پاڼه د طالبانو اعلامیې وګورئ:.(http://alemarahenglish.com/?p=33722)

[13] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: .https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1245559799649099777?s=20.

[14] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ:.https://www.un.org/press/en/2020/sgsm20018.doc.htm.

[15] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://eeas.europa.eu/delegations/afghanistan/77224/press-release-eu-heads-missions-humanitarian-ceasefire_en

[16] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ:https://www.oic-oci.org/topic/?t_id=23302&t_ref=13970&lan=en

[17] له اختر څخه په مخکې اونۍ کې، له ټولو منابعو څخه د امنیتي پېښو شمیر هره ورځ د ۷۵ او ۹۱ تر منځ وو، چې یوازې د مۍ له ۲۱ تر ۲۶ پورې دغه شمیر د پام وړ راپرېوت چې شمیر یې د ۱۷ او ۳۶ ترمنځ وو.

[18] د څارنې او راپور ورکونې ملي کاري ډله په جګړه ییزو حالاتو کې د ماشومانو په ضد د شدیدو سرغړونو په اړه د هیواد په کچه د څارنې او راپور ورکونې میکانیزم دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) پریکړه له مخې ایجاد شوی. دغه کاري څواک د ملګرو ملتونو له ټولو اړوندو ادارو څخه تشکیل شوی او په ګډه یې د افغانستان، یوناما او یونیسف له خوا مشري کیږي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۹۹۸ پریکړه له مخې، پر روغتیایي واحدونو او پرسونلو بریدونه په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په ضد له شپږو سختو سرغړونو څخه یوه هغه جوړوي.

[19] د جینوا د کنوانسیونونو د ۱۹۷۷ کال دویم الحاقي پروتوکول، ۱۳(۲) ماده؛ د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱ او ۷ قواعد.

[20] د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱ او ۷ قواعد؛ د نړیوالې جنایي محکمې دروم اساسنامه، ۸ (۲)(ای)(آی) ماده.

[21] د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱۴ او ۱۵۶ قواعد.

[22] د جینوا د کنوانسیونونو د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ الحاقي پروتوکول، د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۱۵قاعده، او په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې د قربانیانو د ساتنې په تړاو (دویم الحاقي پروتوکول)، ۸ جون ۱۹۷۷ وګورئ.

[23] د ۱۹۹۴ د اګست ۱۲ د ژنیو کنوانسیونونو دریېمه مشترکه ماده ("دریېمه مشترکه ماده")؛ د ۱۹۴۹ د اګست ۱۲ د ژنیو کنوانسیون دویم الحاقي پروتوکول ۴ (۲)، ۷، ۱۳ مادې؛ د سره صلیب نړیواله کمیټه، د بشرپالنې عرفي نړیوال قانون څېړنه، ۱، ۶ او ۷ قواعد. روغتیایي کارمندان، روغتیایي مرکزونه او طبي ترانسپورت، که نظامي وي یا ملکي، چې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د روغتیایي چارو لپاره په ځانګړې ډول مشخص شوي وي، د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې له بریدونو خوندي دي. دریمه مشترکه ماده؛ د الحاقي دویم پروتوکول ۹ (۱) ماده؛ د ای سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنه، ۲۵، ۲۸ او ۲۹ قاعدې وګورئ. دغه راز د نړیوالې جنایي محکمې د روم اساسامې ("روم اساسنامه") ۸ (۲) (سي)، (ای) (آی)، (ای) (آی آي) وګورئ.

[24] دویم الحاقي پروتوکول، ۱۱ ماده، آی سي آر سي، د سي آی ایل ډیټابیس ۲۵ او ۲۸ قواعد.

[25] طبي مرکزونه یا "واحدونه" لکه روغتونونه، کلینیکونه او درملتونونه؛ او طبي ترانسپورت چې په څرګند ډول د ناروغو او ټپي اشخاصو لپاره کارول کیږي خوندي دي. د جنیوا د لومړي کنوانسیون ۱۹، ۳۵ مادې، د څلورم کنوانسیون ۱۸ ، ۲۱ مادې؛ د لومړي الحاقي پروتوکول ۱۲، ۲۱ مادې؛ د دویم الحاقي پروتوکول ۱۱(۱) ماده، د آی سي آر سي د عرفي نړیوال قانون څیړنه، ۲۸ او ۲۹ قواعد وګورئ.

[26] الحاقي دویم پروتوکول، ۱۱-۹ مادې ؛ د ای سي ار سي نړیوال عرفي قانون ، ۲۵، ۲۸ او ۲۹ قواعد

[27] دویم الحاقي پروتوکول ۱۱ ماده؛ آ د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۲۵ او ۲۸ قواعد.

[28] دویم الحاقي پروتوکول ۱۱ ماده؛ آ د آی سي آر سي له خوا د نړیوال عرفي قانون څېړنه ۲۸ قاعده.

[29] د نړیوال کنوانسیون له مخې "یرغمل نیول" داسې تعریف شوي، "یرغمل نیول د وژنې، ژوبلې یا د یرغمل شوي شخص د توقیف د دوام له ګواښلو سره مل د یوه شخص د نیولو یا توقیف (یرغمل شوی) عمل دی، څو د یرغمل شوی شخص د خوښې کیدو د صریح یا ضمني شرط په څېر دریم لوری د یوه عمل اجرا یا منع ته اړ ایستل شي." د یرغمل نیول د منع نړیوال کنوانسیون، ۱ ماده(*ibid.*, § 2052) . د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې ۸ (۲)(الف)(وي آی آی) او (ج)(۳) ماده وګورئ (*ibid.*, § 2054). د جینوا کنوانسیونونه، دریمه مشترکه ماده(cited in Vol. II, Ch. 32, § 2046) ؛ د جنیوا څلورم الحاقي پروتوکول، ۳۴ ماده (*ibid.*, § 2047) او ۱۴۷ ماده(*ibid.*, § 2048).

[30] د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون ۹ ماده.

[31] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (۱۹۴۹)، ۲۵ ماده، د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون ۱۲ ماده.

[32] په دې کې د وسله والې جګړې هر هغه پېښه شامل ده چې د جګړې د ښکیلو لورو له خوا ترسره شوې وي کومه چې په مستقیم ډول د روغتیا پالنې د سیستم کوم اړخ هدف ګرځولې وي، لکه پر روغتون عمدي برید، د روغتیایي کارمند تښتونه، یا د تهدید یو عمل.

[33] یوناما د طالبانو له خوا د روغتیایي کارمندانو تښتونې په مرکزي سیمه (میدان وردګ ولایت)، ختیځه سیمه (کنړ ولایت)، جنوب ختیځه سیمه (غزني ولایت)، شمال ختیځه سیمه (تخار ولایت)، شمالي سیمه (فارياب ولایت)، او لویدیځه سیمه (فراه ولایت) کې مستند کړې.

[34] د دغه راپور د لیکنې پرمهال، د طالبانو له خوا تښتول شوي ټول روغتیایي کارمندان خوشې کړای شوي، چې زیاتره یې د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته خوشې شوي.

[35] په دې برید کې ۲۴ وژل شویو نه ۲۳ ملکیان وو . د افغان ملي اردو یوه ډلګۍ مشره څوک چې روغتون ته د زیږون لپاره راغلې وه د هغه قربانیانو په ډله کې وه چې په ډزو وژل شوې وه، خو له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د هغې موقف له امله په ملکي تلفاتو کې نه ده شامل شوې..

[36] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ:. https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1260104288119988225

[37] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.msf.org/fifteen-mothers-confirmed-killed-kabul-maternity-attack-afghanistan.

[38] دا انټرنټ پاڼه وګورئ : https://www.doctorswithoutborders.org/what-we-do/news-stories/news/afghanistan-msfwithdraws-dasht-e-barchi-hospital-followingattack